# د امریکا د متحده ایالاتو د کار وزارت

# د ماشومانو د ناوړه کاري ګمارنې په هکله د کال۲۰۲۲ موندنې

## افغانستان

افغانستان په کال ۲۰۲۲ کې د ماشومانو د ناوړه کاري ګمارنو په له منځه وړلو کې کوم پرمختګ نه دی کړی. د ۲۰۲۱ په اګست میاشت کې د طالبانو له واکمنېدو وروسته بشري ناورین د دې لامل شو چې د ماشومانو د کار کچه لوړه شي، په شمول د ناوړه بڼې، او د نجونو لپاره د ماشومانو د کار موجوده خطرونه نور هم زیات کړي. سربېره پردې، د کوویډ-۱۹ جهاني وبا، د وچکالۍ وضعیت او د اقتصادي وضعیت خرابیدل په هیواد کې د ماشومانو کار، د ماشومانو ودونه او د ماشومانو قاچاق نور هم زیات کړي دي. د دی راپور ورکولو په موده کې، طالبانو په فعاله توګه ماشومان د خپلې امنیتي ځواکونو د یوې برخې په توګه استخدام کړي او کارولي دي. سربیره پر دې حکومت د انسان د قاچاق ځینې قرباني ماشومان چې په ځانګړي توګه د بچه بازي او جګړې لپاره ګمارل شوي وو، د مجرم په توګه پيژندلي او د قربانیانو د ملاتړي اداري پر ځای یې د تنګي ځوانانو زندانونو ته اچولي چې د بد چلند او شکنجه سره مخامخ دي. په افغانستان کې ماشومان د ډیرو ناوړو کاري ګمارنو لکه تجارتي جنسي ګټه اخیستنې، وسلوال جګړې، او د خښت او قالین په تولید کې د جبري کار سره مخامخ دي. دولت د ماشومانو کار د سرغړونو لپاره د مجازات د وضع کولو میکانیزم او د ماشومانو د کاري وضعیت او دهغې د مخنیوي لپاره کافي پروګرامونه نلري. سربیره پر دې، د افغانستان قوانین اجباری کار، د قرض پر وړاندې غلامي، او د انجونو څخه تجارتي جنسي ګټه اخیستنه په کافي اندازه جرم نه ګڼي.

| د ماشومانو کار د ختمولو لپاره حکومت ته وړاندیز شوي چارې | | |
|---|---|---|
| **برخه** | **وړاندیز شوي چارې** | **کلونه وړاندیز شوي** |
| قانوني جوړښت | ډاډ ترلاسه شي چې د کار د پیلولو تر ټولو مجاز ټیټ عمر پر ټولو ماشومانو لکه دوی چې په غیر رسمي کارونو کې بوخت دي یوشان پلی کیږي. | ۲۰۱۹-۲۰۲۲ |
| | د اجباري زده کړې عمر له ۱۵ کلنۍ څخه ۱۸ کلنۍ ته لوړ شي، ترڅو د کار د اقل حد عمر سره سمون ومومي. | ۲۰۲۲ |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د نجونو په ګډون ټول ماشومان ترڅو چې د کار اقل حد عمر ته رسیږي، د ښوونځي تګ ته مکلف وي. | ۲۰۲۲ |
| | د فحشا او مبتذل اجرااتو لپاره د هلکانو او انجونو کارول جرم وګڼل شي. | ۲۰۱۷-۲۰۲۲ |
| | جبري کار او د پور پر وړاندې غلامي باید جرم وګڼل شي او ورنه مخنیوی وشي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۲ |
| د قانون تنفیذ | هغه معلومات چې د کار قانون د تنفیذی اقداماتو په پایله کې لاسته راځي او د کار د شرایطو نظارت اداري د بودجې، د کار نظارت کونکی شمیر، د تفتیش شمیر او نوعیت چې د ماشومانو د کار په هکله ترسره کیږي، د موندل شوي سرغړونو شمیر، او د ماشومانو د ګمارنې په برخه کې د هغو سرغړونو شمیر چې جزا ورته ټاکل شوي دي، باید ټول تعقیب او په عامه توګه خپور شي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۲ |
| | د کار د قانون تفتیش کوونکي اداري ته اجازه ورکړل شي ترڅو د افغانستان د کاري قانون سرغړونې ته جزا وټاکي | ۲۰۱۵-۲۰۲۲ |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د کار د قانون تفتیشکونکی او د جنايي څېړنو مامورینو د ماشومانو د کار شرایط په هکله روزنه ترلاسه کړې دي. | ۲۰۱۱-۲۰۲۲ |
| | د ماشومانو د کار په هکله د شکایتونو مکانیزم باید ساده جوړ شي ترڅو تقریري شکایتونو ته لاره هواره شي، او دا شرط باید لیری شي یا معاف شي چې د سرغړونې د ثابتولو لپاره عارض کس قانوني دلایل وړاندې کړي. | ۲۰۱۵-۲۰۲۲ |

| برخه | وړاندیز شوي چارې | کلونه وړاندیز شوي |
| --- | --- | --- |
| **د ماشومانو کار د ختمولو لپاره حکومت ته وړاندیز شوي چارې** | | |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د کار تفتیش اداره په ټولو سکتورونو او ټول هیواد کې خپل فعالیتونه ترسره کوي. | ۲۰۲۲-۲۰۱۴ |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د کار مفتشین او د جنایی کارکوونکی شتون ولري او د ماشومانو د کار قوانینو د پلي کولو لپاره لازم امکانات په شمول د کافي دفترونو چې په عصري ټیکنالوژیو سمبال وي او د تفتیش ځایونو د تګ لپاره ټرانسپورټ امکانات په واک کې ولري. | ۲۰۲۲-۲۰۱۲ |
| | د جنايي مسولینو او ټولنیزو خدماتو او د کار اداري او ټولنیزو خدماتو ترمنځ د هماهنګی او راجع کولو میکانیزم رامینځته شي. | ۲۰۲۲-۲۰۲۰ |
| | باید ډاډ ترلاسه کړو چې د قاچاق او نورو ناوړو کارونو اغیزمن شوي ماشومان د قربانیانو په توګه وپېژندل شي او مناسبه ټولنیزو خدماتو ته راجع شي، دوی باید توقیف او یا زندان ته وانچول شي، او د شکنجه او بد چلند سره مخامخ نشي. | ۲۰۲۲-۲۰۱۴ |
| | باید ډاډ ترلاسه شي چې ماشومان د وسلوال ګروپونو او د حکومت اړونده پوځي ارګانونو لخوا نه ګمارل کیږي، او همداراز د دوی د هویت اسنادو له جعل کاری څخه مخنیوی وشي. | ۲۰۲۲-۲۰۲۰ |
| | د جزا قانون د پلي کولو اقدامات په اړه چې په کې د جنايي پلټونکو روزنه، د تحقیقاتو شمیر، پیل شوي محاکمې، ترلاسه شوي محکومیتونه، او د ماشومانو د کار تر ټولو ناوړه ډولونو پورې د اړوند سرغړونو لپاره د جزا ټاکل په اره معلومات باید خپاره شي | ۲۰۲۱ ــ ۲۰۲۲ |
| | هغه دولتي چارواکي چې د ماشومانو د کار په ناوړه کړنو کې لکه بچه بازی او په پوځي لیکو کې د ماشومانو په ګمارلو کې لاس لري، باید تحقیق شي، ونیول شي، محاکمه وشي او که اړتیا وي زنداني شي. | ۲۰۲۱ ــ ۲۰۲۲ |
| همغږی | ډاډ ترلاسه شي چې د همغږی تولي اداري فعاله وي او کولای شي سپارل شوي دندې ترسره کړي، پشمول ددې چې د خپلو کړنو مفصل معلومات د همغږی اړوندې ادارو ته واستوي او د سپارل شوي دندې په اړه جلسي ولري. | ۲۰۲۲-۲۰۱۷ |
| دحکومت پالیسي | ډاډ ترلاسه شي چې د ماشومانو د کار اړوند کلیدي پالیسیو د پلي کولو لپاره لازم اقدامات ترسره کیږي لکه د کار ملي پالیسي، د ماشومانو د کار ملي ستراتیژي او د عمل پلان، او د انسان د قاچاق پرخلاف د عمل ملي پلان، او د پلي شوي فعالیتونو پایلې خپاره شي. | ۲۰۲۲-۲۰۱۶ |
| ټولنیز پروګرامونه | د زیږون نېټي یو کمپاین باید ترسره شي ترڅو عمرونه تثبیت او ماشومان وکړای شي ښونځیو ته لاړ شي. | ۲۰۲۲-۲۰۱۵ |
| | ډاډ ترلاسه شي چې د ماشومانو کار ته د رسیدګی لپاره د اساسي ټولنیزو پروګرامونو د پلي کولو لپاره اقدامات ترسره کیږي لکه د ماشومانو د کار لپاره د آسیا سیمه ایز پروګرام، د افغان ملي پولیسو په چوکات کی د ماشومانو د ساتني واحدونو ایجادول، او د تنکي ځوانانو د بیارغوني مرکزونو اداره، او د پلي شوي اقداماتو په اړه معلومات په عامه توګه خپاره شي. | ۲۰۲۱ ــ ۲۰۲۲ |
| | داسي پروګرامونه جوړ شي چې زده کړې ته لاسرسي زیات کړي او په ښوونځیو کي په ځانګړې توګه د نجونو په ښوونځیو کې امنیت د ښه کړي. | ۲۰۲۲-۲۰۱۴ |
| | د حکومت لپاره ظرفیت رامینځته شي چې د ماشومانو د ساتني واحدونو لپاره کافي بین الحکومتي د راپور ورکولو چینلونه ولري ترڅو ماشومان وپیژني، د امنیتي | ۲۰۲۲-۲۰۲۰ |

| د ماشومانو کار د ختمولو لپاره حکومت ته وړاندیز شوي چارې | | |
|---|---|---|
| برخه | وړاندیز شوي چارې | کلونه وړاندیز شوي |
| | ځواکونو سره د دوی د یوځای کیدو مخه ونیسي، او دوی د سرپناه او ټولنیز خدماتو، او کورنۍ سره د بیا یوځای کیدو خدمتونو ته راجع کړي. | |